یوه څلوریځه ، یو لنډ نثر :

څلوریځه :

اعتدال لاره درواخله چي راسته ده
د افراط ، تفریط لار مه اخله کږه ده
اعتدال کوه په دین او په آیین کي
پرې یې نږدې چي دا لار ډېره پخه ده

نثر :

زموږ نیکه محمد انور خان اڅکزی نومېدی او د اڅکزو په لوی ټبر کي لوی سوی و. هغه په خپل قوم او هم د کندهار په ولس کي ښه نوم درلود. خلکو د هوښیار سړي په سترګو ورته کتل او «خان اکا» یې باله. ځیني دوستان او خپلوان به د سلا مشورو د پاره هم ورته راتلل. هغه د کندهار د هغه وخت په چاپېریال کي چي نه سم دارودرمل موجود وو او نه ډاکټر پنځه نوي کاله عمر وکړ او کله چي په ځان پوه سو چي نور نو ژوند نه سي کولای موږ وارثانو ته یې وصیت وکړ چي ما به د میوند د شهیدانو په هدیره کي ښخوئ، موږ یې هم وصیت پرځای کړ او جنازه مو یې د ۱۹۷۱ م کال په دوبي کي میوند ته ورسوله.

په میوند کي د هغه د مشري لور کور و او کله چي به د خپلي لور د لیدلو د پاره میوند ته ورغی نو دغه هدیره به یې هم کتله او د شهیدانو زیارت به یې کاوه چي ډېر تأثیر یې پر کړی و.

خان اکا د دې د پاره چي پر میراث یې د زامنو ، لونو او نورو وارثانو تر منځ شخړي او جنجالونه پیدا نه سي نو خپل مال او شتمني یې په خپل ژوند کي پر هغوي وویشله او ځکه نو تر اوسه چي کورنۍ مو ډېره غټه سوې هم ده ، د هیچا ترمنځ پر میراث باندي کومه شخړه نه ده راپیدا سوې.

خان اکا تل د اعتدال لار خوښوله ـ اعتدال په دیني چارو کي ، اعتدال په دنیوي چارو کي او د افراط او تفریط مخالف و. ویل به یې که د هیواد په سطح ورته وګورو ، په دین کي افراط او تفریط افراطي حکومتونه منځ ته راوړي چي دواړه د ولس په تاوان دي. د هغه دا خبره اوس خپل ځای ته رسیږي. د تفریط دلاری حکومت د خلقیانو حکومت و او د افراط دلاري حکومت د طالبانو حکومت دی چي افغانان یې اوس تجربه کوي.

خان اکا ښه مسلمان و او په انفرادي توګه هم د اعتدال دلاري لاروی و. مسجدونه یې جوړکړي وو، کوشش یې کاوه چي درې وخته لمونځ مسجد ته ورسوي او دوه وخته په کور کي وکړي. دا دوه وخته د ماپښین او ماځیګر لمونځونه وو ، ویل به یې چي ماپښین او ماځیګر د دنیوي چارو او کاروبار د ترسره کولو د پاره مناسب وختونه دي. پروا نه کوي که یې لمونځونه په مسجد کي ادا

نه سي. هغه به دا دوه وخته لمونځ په دوبي کي عموما د کور په غولي کي او په ژمي کي په خپله خونه کي کاوه او بيا به نو د دنيا په کاروبار اخته سو.

په دي ډول خان اکا هم په ديني چاروکي او هم په دنيوي چارو کي ښه پرمختګ وکړ. برسېره پر دوو مسجدونو چي په کندهار کي يې جوړ کړي وو، څو کورونه يې هم جوړ کړل ، مځکي او باغونه يې رانيول او آرام ځای يې د ميوند د شهيدانو هديره سوه.

زه خو فکر کوم چي دا ټول د دين او دنيا په چارو کي د اعتدال ساتلو له کبله زموږ د نيکه محمد انور خان اڅکزي په نصيب سوي وو. تاسي څه فکر کوئ ؟

طاهر اڅکزی

يادونه : د بدو سترګو دي په امان وي اروا ښاد خان اکا اوس مهال ښه ډېر لمسيان او کړوسيان لري چي د نړۍ په څو هيوادونو کي د مهاجرينو په توګه ژوند کوي او په موږ لمسيانو کي دوه تنه ډېر فعال دي چي يو استاد ننګيالی بڅرکی او بل ښاغلی محمد موسی شفق دی. ننګيالي بڅرکي ( د محمد انور خان اڅکزي د خاطراتو ) په عنوان په خپل اهتمام يو کتاب چاپ کړی دی، او محمد موسی شفق ( د محمد انور خان اڅکزي په نامه ) په کندهار کي يو ښکلی جامع مسجد جوړ کړی دی.